# د برحلیمه افسانه د دیوان موضوعاتي جاج

## (A thematic study, of the Dewan of Barhaleema Afsana)

Issn 2304-1463

Asia Yousufzai [1]
asia93644@gmail.com
Dr Nasr Ullah Jan Wazir
nasrullahwazir64@gmail.com

**Abstract:**

Bar Haleema Afsana is a prominent name of the modern era of Pashto Language and literature. She lived in a beautiful area of Swat, Khyber Pakhtunkhwa. She wrote a poetry in a diwan named “Da Afsane Diwan. In this diwan she tested many genres. Because its themes are very important, that’s why I wrote this article on the themes of her poetry.

**Key words:**

Poetry, Diwan, Afsana, SWAT, Shahdara, Genres, Themes.

برحلیمه بي بي د پښتو د جدید دور یوه ښکاره نامه ده ـــ څوک چې د سوات غونډې ښائسته وطن کښې اوسېدلې ده ـــ شاعري ئې کړې ده او داسې موضوعات ئې بیان کړي دي چې د پښتنو د پاره پکښې د زده کړې ډېر څه موجود دي ـــ هغه د شاعرۍ پوره دیوان لري ـــ او په دغه دیوان کښې ئې په ګڼو اصنافو طبع ازمائي کړې ده.

برحلیمه افسانه چې نوم ئې برحلیمه او تخلص ئې افسانه دے ـــ د سوات د شاهدرې کلي اوسیدونکې وه . د دې تعلق د سوات د سېدانو د یوې درنې کورنۍ سره دے . لکه چې وائي :

زۀ سـیـده سـیـالـه یـم سـوات کښـې مـې سـکـنـه ده
نـوم مـې افسـانـه دے ځـائـے مـې شـاهـدره ده[1]

---

[1] Phd Scholar, Pashto Academy University Of Peshawar.

عطاءالرحمن عطاء صېب د هغې د پېدائش نېټه ۱۹۲۷ء[2] او برکت علي برکت کوم چې د هغې نزدې رشته دار دے ۱۹۳۵ء ښائي لکه چې وائي:

"تر څو چې ما د هغې د خپلو خپلوانو نه د هغې د پېدائش کال په اړه معلومات کړي دي نو د هغوي د وېنا تر مخه د هغې د پېدائش کال ۱۹۳۵ء دے او د پلار نوم ئې مياں امير دے ."[3]

هغې ليکل او لوستل په خپل کور کښې دننه زده کړي دي .ليکل ئې د کتاب نه او لوستل ئې د خپلي مور نه زده کړي دي لکه چې خپله وائي:

يــوه ورځ کــتــاب فــروش راغــلــے کــوڅــې تــه
اے ســـامــعــه راشـــه غــوږ ونــيـــســه دې تــه
خــپــلــې مــور نــه مــې شـــروع کــړه هــغــه آن
نــور نــامــې مــعــراج نــامــې بــه مــې لــوســتــلــې
زمــا عــقــل تــه بــه داســې ښـــکــاربــدلــې [4]

داسې هغې د حافظ الپورئ ديوان ، د رحمان بابا ، خوشحال خان خټک ، فتاوه ودوديه ، انوار سهيلي او داسي نور کتابونه لوستل زده کړه.

د ليک زده کولو باره کښې وائي:

راشـــه زده کــړه پــه پښــتــو ژبــه لــيــکــل
د يــو ډکــي نــه قــلــم مــې کــړو رامــات
د تــبــې د تــورکــي ډک مــې کــړو دوات
د هــر ټــکــي نــه بــه مــا نــقــل کــولــو
بــې اســتــاده بــه لــګــيــا ووم پــه لــيــکــلــو[5]

داسي هغې ليک زده کړو او خپله شاعري به ئې په خپل لاس ليکله ــ که په هغه وخت کښې د هـغـې ديـوان چـاپ شـوے وے نـو پـه خـپـل ژونـد بـه ئـې ډېـر نـوم ګـټـلے وۀ .

او د سوات په زنانهٔ شاعرانو کښې به په اول نمبر وه، د هغې وادهٔ د محمد جمیل سره شوے وۀ او د هغې درې زامن او درې لوڼه وې ۔

د هغې د وفات صحیح نېټه نۀ ده معلومه۔ عطاءالرحمٰن عطاء ئې فروري کال ۲۰۰۱ء او برکت علي برکت ئې ۲۰۰۰ ښائي۔

## تصانیف:۔

د برحلیمي افسانې "د افسانې دیوان" په نوم دا دیوان په اګست ۲۰۲۰ء کښې عطاءالرحمن عطاء، احسان یو سفزي او د هغې د رشته دارو په مرسته د ډاکټر نصرالله جان وزیر په وېنا چاپ کړے شو ــ د دې وخته پورې دا قلمي نسخه د ښاغلي فضل رشید سره پرته وه ــ د دې دیوان نه مخکښې هغې دوه دیوانونه لیکلي وو چې یو ئې په خپله او بل ورله خاوند سوزولے وۀ ــ په خپل دیوان کښې د هغې ځائے په ځائے ذکر کوي لکه چې یو ځائے وائي:

یو کتاب وسېزو ما یو مې صاحب
چې لیکلي ورپکښې وو عجائب [6]

## د افسانې د دیوان موضوعات :۔

د افسانې دربم دیوان چې د هغې ورور د ځان سره پټ وساتلو دا دیوان چې هغې لیکلو هغۀ وخت کښې د هغې کورني حالات ډېر ګډ وډ وو ــ یو زوے ئې د کور نه بهر او بل ګاډي وهلے مړ وۀ ۔ هغې په کښې زیات موضوعات د خپل کورني حالاتو بیانول خو ورور ورته وې چې دې کښې نور موضوعات هم ځائے کړه ۔

افسانه د خپل دیوان د موضوعاتو باره کښې وائي:

زما شعر صرف زما د غم موضوع ده
صفتي د تورو زلفو د خال نۀ یم [7]

بل ځائے وائي:

موضوعات مې د غم وو غم کښې شو پاتې
په تدبیر کله بدلېږي مقدر[8]

د غم او درد باوجود هغې په خپل دیوان کښې په هره موضوع شاعري کړې ده ـ د خپل مذهب اسلام، خپل خدائے ،خپل خوږ پېغمبرﷺ او د اسي نورو پېغمبرانو، اهل بېتو، بزرګانو، د نړۍ د ټولو انسانانو، خپلو بچو، خپل قام، خپل خوږ وطن، خپلې علاقې "سوات" سره مینه، پښتو، حیا، اخلاقیات، پښتني اقدار، شریعت، قانون، محنت، د ښار پېغلې، د کلي پېغلې، ایمانداري او د اسې نور ډېر موضوعات د خپل پښتون قوم نارینؤ، زنانوؤ د اصلاح دپاره ځائے کړې دي۔

مذهب سره مینه افسانه د خپل خالق نه د بخښنې دعا کوي او ځان د حضرت محمدﷺ ریښتینې اُمّتي ښائي۔لکه چې وائي:

اے رحیمه تهٔ بخښونکے مهربان ئې
زهٔ په سچا اُمّتي یم د حضرتﷺ [9]

بل ځائے وائي چې زهٔ بې اسرې او بې نوا نهٔ یم تهٔ زما خالق او اسره ئې او نورو خلقو ته هم د الله پاک د یادؤلو تلقین کوي۔

لکه چې وائي:

مومنه زما واؤره یو الله مهٔ هېروه
هر دم په ژبه وایه بسم الله مهٔ هېروه[10]

هغه د خپل رب ثناء صفت کوي هغه د زمکې او آسمان مالک او هر ځائے موجود او خپل محافظ مني او وائي:

اول حمد د پاک الله
دے بادشاه د ارض، سما
خدائے په هر ځائے کښې موجود دے
خدائے بادشاه د کل اشیا

خــدا ے بــې شــــکــه چــې واحــد دے
مــــحــــافــــظ د هــــر يــــو ســـــا [11]

دغه شان د هغې د قبر په عذاب باندې هم يقين دے او د هغې نه پناه غواړي لکه چې وائي:

مــا د قــبــر د تــنــګــۍ نــه پــه امــان کــړې
پــه خــپــل فضــل مــا لــه ځــائـے دارالســـلام را
افســـــانــــه وائــــي قــــادره لايــــزالــــه
تــوفــيــق مــالــه پــه خــپــل ديــن پــه کــلام را [12]

دغه شـان هغه حضـرت محمدﷺ اخري پېغمبر او خپل پېشـوا مني او د هغويﷺ په وسـيله د خدا ے نه فردوس هم غواړي ۔

خــپــل عــمــل مــې د کــونــجــکــې پــه تــول نــيشـــتــه
د حضـــــرت پــــه بــــرکــــت فــــردوس مــــقــــام را [13]

د خپل خوږ پېغمبرﷺ نه علاوه هغې په خپل ديوان کښـې د نورو پېغمبرانو موضـوعات هم راوړي دي ۔ چې په قران مجيد کښې ئې هم ذکر موجود دے لکه چې وائي:

کــه يــو لاکــهــــــ ثــلــيــرشـــت زره انــبــيــاء دي
د نــمــرود اور چــې پــرې بــاغ شـــو ابــراهــيــم دے [14]

بل ځائے کښې د نوح عليه السلام د بېړۍ د حفاظت ذکر داسې کوي:

وه د نــوح بــېــړۍ د خــدائـــے پــه حــفــاظــت کښـــې
قـــرارے ئـــې د جـــودي د غـــرۀ پــــه ســــر وۀ [15]

بل ځائے کښـې د يوسـف عليه السـلام چې د خپل پلار نه وروڼو جدا کړے وۀ او ډېر وخت ئې په جدائۍ کښې تېر شوے وۀ ۔ بيا يو ځائے شو ۔ د هغې واقعې ذکر داسې کوي:

وګــوره يــعــقــوب چــې پــه يــوســـف پســـې ژړل مــدام
ډېــر عــمــر ئــې تــېــر شـــو آخــر يــو بــل ئــې مــونــدلــي دي [16]

دغه شان هغه د دې پاکو پېغمبرانو د تکليفونو هر قسمه ازمېښتونو ذکر کوي او خلقو ته دا وائي چې د دې هر څه باوجود هغوي خپل رب او د خپل رب ثنا او تعظيم نۀ دے پرېښے ـ لکه چې وائي:

يـونـس وې ثـنـا پـه ګـېـډه د مـهـي کښـې
يـوسـف بـنـد پـه زنـدان رب تـه پـه تـعـظـيـم دے[17]

دغه شان هغه د حضرت عيسىٰؑ چې الله تعالىٰ اسمان ته اوچت کړے دے او موسىٰ کليم الله چې هغه کوهِ نور ته د الله تعالىٰ د راز و نياز دپاره تلے وۀ د هغې ذکر داسې کوي:

روح وۀ روح د روح الله اسـمـان تـه اوخـت
راز د خـدائـې پـه کـوه طـور کـړے کـلـيـم دے[18]

د دې نه دا معلومېږي چې هغه په مذهبي علومو ښۀ پوهه وه او د قرآن مجيد مطالعه ئې په صحيح طريقه کړې وه د خپل مذهب اسلام، خپل خوږ پېغمبر حضرت محمد ﷺ سره ئې ډېره مينه وه او نورو مسلمانانو ته ئې هم د الله پاک، د هغه د پېغمبرانو او د هغه د دين اسلام سره مينې تلقين کولو ـ

## اخلاقيات :ـ

د انسان د پېدائش او د هغه د ژوند مقصد د ښو اخلاقو د ترويج دوېم نوم دے دا د انسان د ترقۍ او لوئۍ يوه پوړۍ ده ـ فطرت ته هم دا منظوره ده او د خدائے پاک هم دا خوښه ده ـ د قرآن هم دا پېغام دے او د رسول الله ﷺ ژوند هم د ښو اخلاقو نمونه ده ــ هم دا وجه ده چې برحليمې افسانې هم په خپله شاعرۍ کښې مونږ ته د ښو اخلاقو درس راکړے دے ـ که د هغې ديوان پوره اوکتے شي نو هغه د اخلاقياتو شاعره ده ـ بقول اباسين يوسفزے:

"شاعر د ژوند رښتونے عکاس، مفسر او مبلغ وي ــ د ژوند د ښکلا ستائيل او د بدرنګۍ غندل، په نخښه کول او اصلاح کول دے خپل منصب ګڼي ــ شاعر د وخت نباض وي ــ ټول عمر ئې د قام په نبض لاسونه ايښي وي ــ د قام څه چې د ټول انسانيت او انسانيت څه چې

د ټولو مخلوقاتو د غم درد او د هرې رنځورتيا علاج لټول خپل اخلاقي او منصبي فرض ګڼي."[19]

د هغې شاعرۍ کښې داسې اخلاقي درس دے کوم چې زمونږ د مذهب د اخلاقي تعليماتو نچوړ دے لکه چې وائي:

هر بشر ئې مشغولا ته هوس کاندي
کوم يو خلق چې لري زبان لذيذ[20]

داسې هغه وائي چې خوږه ژبه او ښې خبرې کولو سره به ستاسو هر څوک ملګري وي ـــ نو د بد اخلاقۍ نه ځان اوساتئ. په خپل يو شعر کښې وائي:

په دهان کښې چې زبان لري شيرين
د هغو به وي ډېر خلق همنشين[21]

داسې هغه په خپله شاعرۍ کښې د ښو اخلاقو لرونکو صفت کوي او د دولت نه ښه اخلاق غوره او د شرافت معيار بولي لکه چې وائي:

څۀ شو دا که په دولت وي څوک ضعيف
ښۀ هغه وي چې اخلاق ئې وي شريف[22]

داسې هغه د بد اخلاقۍ نقصان بيانوي او مونږ ته د هغې نه د بچ کېدو درس راکوي لکه چې وائي:-

د بلبلو چغار زده کړه پس له هغې
د چمن په ګلو هله کړه پرواز[23]

او داسې هغه په خپله شاعرۍ کښې د اخلاقي خوبيو نۀ لرونکو خلقو د مريدۍ نه هم د بچ کېدو تلقين کوي لکه چې وائي:

چې عمل، علم، تقوٰی ادب ئې نۀ زده
هيڅوک مۀ شۀ له دې هسې پير مريد[24]

څوک چې بد اخلاقي کوي او بد خوئي لري د هغې نقصانات پخپله شاعرۍ کښې داسې بيانوي، چې د دې نه انسان ځان اوساتي، لکه چې وائي:-

غيبت مه کوه عمل خوري
صدقه به دې بلا خوري
غصه عقل خوري خبر شه
پښيماني به دې سخا خوري
غم دي عمر خوري غم مه خوره
نېکي کړه چې بدي ستا خوري [25]

د دې نه دا اندازه لګي چې هغې د ښو اخلاقو خپلولو دپاره خپل ديوان کښې ځائے په ځائے د انسانانو د اصلاح دپاره په فراخه مټ شاعري کړې ده.

## ترقي پسندي:

هغه شاعري چې عقل ته رڼا ورکوي او پکښې په لوږه، غريبۍ، سماجي پستۍ او سياسي غلامۍ باندې بحث کوي ـــ دا اصل کښې د پسمانده طبقو نمائندګي کوي ـــ د هر ظالم او جابر انسان خلاف اواز پورته کول د مظلوم مرسته او د جاګيردارۍ غندنه کوي ـــ د بر حليمه افسانه فکر ترقي پسنده دے ـــ هغه د غريبانانو او بې وسو خلقو مرستياله ده ـــ د زورور د زور او جبر خلاف ده ـ په خپل ملک او معاشره کښې د غربت او د ظلم د حال نه خبر ده لکه چې وائي:-

سبټ چې کباب اوخوري د چا اوچه ډوډۍ څۀ کوي
سبټ چې شراب اوڅکي د چا تشه کنډۍ څۀ کوي
اوسي په بنګلو کښې د جونګړې په حال څۀ خبر
ګرځي په موټر کښې د چا سترې پنډۍ څۀ کوي [26]

د ترقي پسند تحريک او پښتو ادب ته د ترقي پسند رجحان د غزونو په حقله ډاکټر حنيف خليل ليکي:

"کومو مغربي ادبي تحريکونو چې په مشرق کښې اردو ادب ته خپل

اثرات راګډ کړي وو ـ ورسره ئې پښتو ادب هم څۀ خو نېغ په نېغه او څۀ د اردو په ذریعه په خپل تاثر کښې راوستے وۀ ـــ د هم دغه تاثر لاندې چې په کال ۳۶-۱۹۳۵ء کښې د انجمن ترقي پسند مصنفین کوم تنظیم په متحده هندوستان کښې وجود کښې راغلو نو اردو ادب سره سره ئې پښتو ادب ته هم لاره وکړه ـ د اردو ادب په حواله د ترقي پسند تحریک سرکرده کسانو کښې د سجاد ظهیر، علي سردار جعفري، اختر حسین رائے پوري، فیض احمد فیض، احمد ندیم قاسمي، جوش مليح آبادي او مجنون ګور کپوري نومونه په خصوصیت سره د ذکر وړ دي ـــ خو د دوي ټولو پس منظر کښې د پرېم چند حقیقت پسندي په نظر راځي ـــ د متحده هندوستان دغو لیکونکو کښې د ډېرو تعلق د پښتو لیکونکیو سره هم وو ـ خصوصاً فیض احمد فیض، احمد ندیم قاسمي او جوش مليح آبادي نېغ په نېغه رابطه د پښتو ادب او ادبیاتو سره وه"[27]

په پښتو ادب کښې د دغه دور په نمائنده ترقي پسند لیکوالو کښې د کاکاجي صنوبر حسین، فارغ بخاري، رضا همداني، خاطر غزنوي، ایوب صابر، قلندر مومند، ولي محمد طوفان، سیف الرحمان سلیم، همېش خلیل، فضل حق شیدا او اجمل خټک وغیره نامې د ذکر وړ دي ـ[28]

ترقي پسنده شاعر امن او انصاف خوښوي ـــ ځکه چې امن او انصاف نه بغیر معاشره کښې سکون نۀ شي راتلے ـ بد امني، ظلم، وحشت ټولنه تباه کوي ـ ترقي پسنده فکر غواړي چې هر بې وسه او کمزورے دے د ظلم او جبر خلاف پاځي او آواز دې پورته کړي ـ داسې افسانه هم وائي:

د پروانه شان په غېرت کښې سوزېده مې خوښ دي
دغه د ظلم کبر جام نسکورېده مې خوښ دي
وحشي خو نۀ یم چې وحشت د چا منلے شمۀ
زۀ خو انسان یم د انسان خدمت کړلے شمۀ [29]

داسې هغې په خپل دیوان کښې ځائے په ځائے د ظلم جبر خلاف آواز پورته کړے دے ـ

**حیا:۔**

اَلحَیَاء مِنَ الایمَان

ترجمه: حیا د ایمان حصه ده۔

زمونږ مذهب اسلام د حیا تلقین کوي او پښتنانۀ هم حیا ، پرده خوښوي ــ د پښتنو په معاشره کښې هغې جینۍ ته په درنه سترګه او نظر کتلے کېږي ۔ څوک چې د خپلې حیا ، عزت خیال ساتي ۔ او چې کومه جینۍ بې حیا وي نو د کور د خلقو نه علاوه د بهر د خلقو هم بدي شي او شرمېږي پرې ـــ هم دا وجه ده چې افساني په خپل دیوان کښې ځائے په ځائے په دې موضوع په زړۀ پورې شعرونه راوړي دي ۔ چې پښتنې جینکۍ ترې پند واخلي لکه چې وائي :

زۀ پښتنه یم ننګ، پښتو غېرت عزت دے زما
د پښتنو پېغلو حیا عزت عزت دے زما [30]

دغه شان هغه زلمو ته هم وائي چې د بې حیا ښځې سره نکاح مۀ کوئ۔ لکه چې وائي:

چې خپل زېب و زینت ښائي نامحرم ته
د هغې بې سره مۀ کړه نکاح [31]

او چې څوک د حیا او پردې خیال نۀ ساتي د هغه باره کښې وائي:

لکه انګار چې سپېلني سوځوي
داسې کم اصلو ته حیا څۀ شے دے [32]

افساني په خپل دیوان کښې د کلیوالو جینکو د حیا ډېر صفت کړے دے او وائي چې دا د حیا خویونه هره پښتنه پېغله په ځان کښې راولي لکه چې وائي:

په دېوال په دروازه کښې نۀ اودرېږي
ښونه کړې ورته خپلو اولنو ده
خاص پرواه ئې پوزیشن طرف ته نۀ وي
وائي کوخه که د سرو ده خو د پښو ده

هر صفت چې ئې کؤم پکښې موجود دے
حیاداره هره لور د پښتنو ده [33]

دا سې هغه د ښار د جینکو فضول فېشن، بې ځایه ګرځېده نۀ خوښوي او د هغې غندنه کوي لکه چې وائي:

نیمه کور نیمه بهر په دروازه کښې
په سرتور سر وي ولاړه په دېوال
ګرځېده خوراک پوشاک د دې پېشه وي
که خاوند ئې د پېسې نه وي کنګال
که پخه ډوډۍ غوښتل د دې عادت وي
خو د مېک اپ اخیستو له ساتي مال[34]

**مورنۍ ژبې پښتو سره مینه:**

پښتو ژبه د پښتون قوم پېژندګلو ده دا د پښتنو مورنۍ ژبه ده او د مور په شان ورته خوږه هم ده ــ خو ډېر پښتانۀ اوس نورو ژبو زده کولو او په هغې کښې د لیکلو او تخلیق کولو کوشش کوي او په هغې فخر هم کوي- دا وجه ده چې افسانې په خپل دیوان کښې ځائے په ځائے دا موضوع راوړې ده ــ د خپلې مورنۍ ژبې سره مینه او په هغې کښې د تخلیق کولو بار بار ئې وئیلي دي- لکه چې وائي:

پښتو زما د مور او پلار ژبه ده
ځکه پښتو کښې حکایت دے زما
زۀ افسانه شوم په پښتو لیکلو
پښتو ایمان پښتو غېرت دے زما[35]

داسې څوک چې پښتو لیکي او وائي نو اکثر خلق ورته په خاص نظر نۀ ګوري ــ خو افسانه د دې پرواه نۀ کوي او نورو ته هم دا تلقین کوي چې پښتو وائئ، پښتو درنه ژبه ده یو شعر کښې داسې وئي چې:

زۀ افسانه به خدائے خبر چې چاته څۀ ښکارېږم
زما فطرت کښې دي د ننګ او د پښتو ګلونه [36]

**محنت:**

د انسان د کامیابۍ دپاره محنت ډېر ضروري دے۔ کوم قومونه چې محنت کوي هغوي مخ په وړاندې ځي او ترقي کوي۔ شاعر د قوم سترګه وي او په خپل قام ئې نظر وي۔ داسې افسانه هم خپلو پښتنو ته د محنت کولو تلقین کوي او د محنت کونکو ستائینه او حوصله افزائي کوي. لکه چې وائي :۔

نادانه زړۀ د بل په طمع به نهر اودۀ شې
محنت په خپلو متو اوکړه چې افسر اودۀ شې
د شپې ارام کوه د ورځې کړۀ تالاش د رزق
د مستقبل کور به دې وران شي که سحر اودۀ شې[37]

دغه شان هغه د خپل قوم محنت کوونکي ځوانان ستائي او هغوي ته غېرتي ځوانان وائي او دا غواړي چې زمونږ د قوم هر وګړے دې محنتي او ایماندار وي۔ لکه چې وائي:

د شجاعت اواز دې خور دے نوجوانه
د قام غېرتي ځوانه د کار نه پخېر راغلې

که کارخانې دي که ښارونه
کلې کوڅې دي که کورونه
غلې مېوې دي که نهرونه
دا واړه ستا په عنایت دي فېض رسانه
د قام غېرتي ځوانه د کار نه پخېر راغلې [38]

هغه منزل ته د رسېدو دپاره د ډېر زیات محنت کولو تلقین کوي او وائي :

چې ډغرې د قسمت سره اونۀ خوري
خپل منزل ته رسېدل څۀ اسان نۀ دي[39]

هغې په خپل دیوان کښــې د محنتي خلقو ســتائینه او د هغوي په مال باندې په تیاره او په غلطه طریقه د مزو کونکیو غندنه او سپکاوے کړے دے او دا ئې په ګوته کړې ده چې هغه خلق کوم چې د خپلې پېشې او ذمه وارۍ سره مخلص نۀ وي او بغېر محنته او بې ایمانداری مال ګټي د هغوي هیڅوک محتاج مۀ کړې او مۀ د هغوي په شان حرام خور څوک جوړ کړې ۔

خــدایــا هــېــڅــوک بــېــمــار مــۀ کــړې د ډاکــټــر
ګــنــې بــاســـې تــرې څــرمــن دغــه کــافــر
پــه کــرســۍ کښــې د ســنــډا پــه شــانــې نــاســت وي
پــېــړه ســـټ ئــې وي نــیــولــے لــکــه خــر
فــیــس پــوره دو ســـو روپــۍ د هــر چــا اخــلــي
کــه ګــټــلــي وي غــریــب تــاتــکــے پــه ســر
یــا ئــې چــار د دوائــې د پــېــســـو نــۀ وي
د غــریــبــو مــریــضــان مــړه شـــي اکــثــر [40]

په حرامه طریقه د مال ګټلو غندنه کوي او د خوراک په څیزونو کښــې ملاوټ او زیاتو روپو ګټونکو ته د داسې کار نۀ د منعې تلقین هم کوي۔لکه چې وائي:

پــه ســبــر غوښـــه کښــې اتــۀ چیتـاکۍ هډ وي
فــرض دا کــړه کــه قصـــاب دې وي خــوږ یــار
پــه ســبــر پیو کښـــې ســبــر اوبــۀ د ګوجر مېچ دے
پــه یــو څــاڅــکــې قســـم خــوري دغــه مــردار
پــه قــیــمــت بــه د ســـرو زرو تــالــه درکــړي
کــه نــیــم مــس پــکښـــې ګــډ کــړي وي ســـنــار[41]

داسې هغه د هغۀ غریبانو نوکرانو د بل د مال نه په غلا یا زیاته منافع اخیستو هم غندنه کوي او وائي چې:

دا مخلوق د دې دنیا څه عجیبه دے
بل ته غل وي که غریب وي که مالدار
لکه سړ چې په پردي انبار افسر وي
داسې وګڼه نوکر د دوکاندار[42]

دغه شان په دفتر کښې د مقدمه چلوونکو سره چې کوم زیاتے کېږي هغه غریب وي د هغه په حق کښې فېصله نۀ کېږي۔ خو هغه سره چې څه وي هغه ترې د خپل حق حاصلولو کښې هم د وکیل یا جج جېب ته لاړ شي ـــ او داسې هغه د نورې مقدمې چلولو نه ناچاره پاتې شي ـــ که څوک غریب ډاکټر له لاړ شي نو هغه ترې په دوایانو او فیسونو، ټیسټونو کښې دومره روپۍ واخلي چې هغه سره هیڅ پاتې نۀ شي۔ نو بیا ورله علاج کوي۔ د غریب زمیدار بد حال وي او داسې هغه د ژوند په هر قدم په مشکلاتو کښې ګېر وي او قرض دارے کېږي ۔ په دې حقله افسانه وائي چې:

چلوي مقدمه که په دفتر کښې
ما غوندې د وخت د رزق شي ناچار
چې څرمن د غریب خرڅۀ کړي بازار کښې
طبیب هله دوا اوکړي د بیمار
نغښتې متې زوړ لباس بدې وهلے
قرض پور وي په قسمت د زمیدار[43]

دغه شان برحلیمه افسانه په خپل دیوان کښې ځائے په ځائے د محنتي مزدور د حوصله افزائۍ سره سره په معاشره کښې د نورو حرام خورو او په ناجائزه د ګټې کولو غندنه کوي ـــ ځکه چې هم د دغې خلقو د وجې د محنت کونکو مزدورانو ژوند ګران وي ـــ هغه چې څۀ ګټي نو هغه د ډاکټر، طبیب، وکیل او داسې نورو خلقو د ناجائزه ګټې نه پوره کېږي او دغه شان هغه قرضدارے وي ۔ نو که د دې خلقو اصلاح اوشي نو د یو محنتي مزدور چې د دنیا ښائیست او زمونږ د ژوند د ارام سبب دے د هغه ژوند به هم لږ په ارام وي۔

**د بچو سره مینه :**

د مور د بچو سره مینه د الله پاک یو لوئے نعمت او رحمت دے ـ د دنیا هر قسمه مخلوق چې بچي پېدا کوي نو د خپلو بچو سره ډېره مینه لري ــــ او په انسانانو کښې د پښتنې مور د وړوکوالي نه واخله تر د مرګه پورې د خپلو بچو سره مینه وي ـــ دا سې افسانې هم کومه چې یوه پښتنه مور ده د خپلو بچو سره ډېره مینه ده ـ د خپلې شاعرۍ په ذریعه هغه میاندو ته د زامنو او بیا د هغوي سره د هغوي د ښځو د خیال ساتلو هم وېنا کوي۔لکه چې وائي:

د عـزت خـزانـه مـۀ اوبـاسـه لـه لاسـه
انـګـور خـپـلـه کـړه چـې زوے دې پـکـار راشـي
کـه زامـن دې پـه تـا ډېـر وي مـهـربـانـه
چې ئې تـه ښـځـه چـېړې خود بـه کـتـار شـي[44]

زمونږ د پښتنو د میاندو دا بدقسمتي وي چې د دوي بچي لوئې شي نو مسافر شي ـــ یا د مور پلار نه جدا شـي چې دا جدائي د مور پلار دپاره ډېره ګرانه وي ــــ برحلیمه افسـانه د نورو میاندو د درد نه هم خبر ده او خپله ورته هم دا احساس شته۔ لکه چې وائي :

سـتا جولۍ دې خدا ے د خوشـحالو د ګلو ډکه کړي
خـبـر د ے کـه زمـا د زړۀ غـنـچـې دې رژولـي دي
خبر د ے که زۀ مړه شـم یا ړنده شـم یا مبتهله شـم
داسـې ډېرې مېنـدې د ببلتون خنجر وژلي دي[45]

د بچو سره مینه ،هغوي ته نصیحت او ځامنو ته هم د میاندو د خیال ساتلو په موضوع ئې په ارت مټ لیکل کړي دي ـ

**وطن سره مینه:**

حب الوطن من الایمان

ترجمه: وطن سره مینه دایمان حصه ده

پښتانهٔ خپل وطن خپلې خاورې سره ډېره مينه لري او په خپل وطن باندې خپل سر قربانوي۔
داسې افسانه هم چې د سوات د ښکلې سيمې او سېدونکې ده د خپل وطن پاکستان، خپلې سيمې سوات، د هغې کلو، غرونو، سېندونو، چينو، ګودرنو، د هغې د رسمونو، رواجونو او په هغې کښې اوسېدونکي پښتانهٔ ستائي۔لکه چې وائي:

زما وطنه زهٔ به تل ستا خدمتونه کؤم
ستا د دښمن سره په توره به جنګونه کؤم
که مړ شم هم د زنده باد به اوازونه کؤم
زهٔ چې څهٔ وايم په دې ټولو اعتماد لره
خدای دې اباد لره [46]

داسې د خپلې سيمې سوات سره ډېره مينه لري ۔او سوات د تورزنو، مېړنو وطن بولي ۔لکه چې وائي:۔

په شام به سوات نهٔ کړم بدل د پښتنو وطن دے
دښمن به ورک کړي د تورزنو مېړنو وطن دے[47]

د سوات د خوړو اوبو، غلو، مېوو، ښکلي غرونو، مرغزارونو د سېل د ځايونو او کليوالو ښکلي زندګي هم ستائي۔لکه چې وائي:۔

په ټول صوبه سرحد کښې د سوات اوبهٔ خوږې دي
غلې دي او مېوې دي يخې يخې هم چينې دي[48]

بل ځائې کښې وائي:۔

په ليدو ئې د ښار خلق خوشحالېږي
د جبې کالام، بحرين کوي مزلي [49]

## فاني دنيا:

په قرآن مجيد او حديثونو کښې بيا بيا د دنيا د فنا کېدو ذکر راغلے دے او د مسلمانانو هم دا عقيده ده چې دا دنيا به يوه ورځ فنا کېږي ختمېږي ــ د مرګ نه پس دوباره د قيامت په ورځ به

ټول مخلوق دوباره ژوندي کېږي ــ هغه ژوند به ابدي ژوند وي ــ او د هغې ژوند د ښۀ والي او یا بدوالي انحصار د انسان په دنیا کښې د عمل په وجه دے ـ که په دنیا کښې ښۀ عمل اوکړي، هغه ژوند به ښه وي ــ او که بد وکړي نو بیا به ئې ژوند ډېر ګران په جهنم کښې وي ــ افساني په خپل دیوان کښې د دې فاني دنیا او په دې کښې د اوسېدونکو مخلوقاتو سره د ښۀ کولو موضوع بار بار راوړي ده ـ لکه چې وائي :ـ

فـاني ده دا دنیـا فـاني ژونـدون دے غرۀ مـۀ شـــه
بـېـدار شــــه عـذابـونـه د عـقـبٰـی مـۀ هـېـروه [50]

د دنیا په ژوند مستو خلقو ته بار بار وائي چې مرګ او د دنیا نه درته تلل پراته دي ـ لکه چې وائي :ـ

تـېـر شـــو تـېـر بـه شـــي دوران د فـانـي دور
لــکــه بـحـر دے روان نـۀ کـوي صـــبـر
کـه دې ســـل کـالـه ژونـدون وي پـه دنیـا کښـې
عـاقـبـت بـه دي شــــي ځـائـے دغـۀ تـور قـبـر[51]

د افســـانې د دیوان موضــوعات زمونږ د ملک زمونږ د پښـــتنو د ژوند او د ماحول حقیقي ایمجري ده ــ هغې په ډېره خوږه ، پسته او اسانه ژبه کښې شاعري کړې ده ــ نن زمونږ دا شاعره زمونږ تر مېنځه نۀ ده خو د هغې شـاعري به دا ټول عمر زمونږ په زړونو او ذهنونو کښـــې ژوندۍ ساتي ـــ د هغې سبق اموز او د اخلاقیاتو او درس نه ډکه شـاعري د هر پښـتون او خاص طور د زنانوو دپاره د لارې مشال دے ـ او زمونږ زړونه او ذهنونه به ټول عمر ترې روښانه وي ـ

# حوالې

[1] افسانه، بر حلیمه، د افسانې دیوان، مینګوره، ګران خپرندویه ټولنه، ملک سپر مارکیټ، نشاط چوک سوات، اګست ۲۰۲۰ء، مخ ۱۸۴

[2] عطاءالرحمان عطاء، د افسانې ژوند او فن ته لنډه کتنه، سریزه، د افسانې دیوان، برحلیمه افسانه، ګران خپرندویه ټولنه، اګست ۲۰۲۲ء، مخ ۱۱

[3] عطا الرحمان عطا، سریزه، مشموله افسانه، بر حلیمه، د افسانې دیوان، ګران خپرندویه ټولنه، ملک سپر مارکیټ، نشاط چوک سوات، اګست ۲۰۲۰ء، مخ ۱۰

[4] افسانه، بر حلیمه، د افسانې دیوان ، مخ ۵

[5] هم دغه، مخ ۳۶۱

[6] هم دغه، مخ ۲۳۹

[7] هم دغه، مخ ۳۶۵

[8] هم دغه، مخ ۹۰

[9] هم دغه، مخ ۱۲۳

[10] هم دغه، مخ ۲۴۵

[11] هم دغه، مخ ۳۹

[12] هم دغه، مخ ۴۱

[13] هم دغه، مخ ۴۱

[14] هم دغه، مخ ۸۱

[15] هم دغه، مخ ۲۰۲

[16] هم دغه، مخ ۱۸۱

[17] هم دغه، مخ ۳۸

[18] هم دغه، مخ ۳۸

[19] یوسفزے، اباسین، د سازوبو د باران ارزو، مشموله د سازونو باران شعري ټولکه د نیلم ارزو، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۱۱

[20] افسانه، بر حلیمه، د افسانې دیوان، مخ ۸۴

[21] هم دغه، مخ ۱۶۴

[22] هم دغه، مخ ۱۶۲

[23] هم دغه، مخ ۹۸

[24] هم دغه، مخ ۹۷

[25] هم دغه، مخ ۲۹۱

[26] هم دغه، مخ ۲۱۱

[27] خليل، محمد حنيف، آئينې، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۱ء، مخ: ۲۳۰

[28] نويد جمال، د اندېش شمس القمر د غزلګوئۍ فکري او فني جاج، علامه اقبال اوپن نيونيورستي اسلام آباد ، ۲۰۲۰ء، مخ ۱۳۳

[29] افسانه، بر حليمه، د افسانې ديوان ، مخ ۱۸۶

[30] هم دغه، مخ ۱۵۷

[31] هم دغه، مخ ۶۸

[32] هم دغه، مخ ۳۱۷

[33] هم دغه، مخ ۲۰۳

[34] هم دغه، مخ ۱۴۴

[35] هم دغه، مخ ۶۶

[36] هم دغه، مخ ۸۴

[37] هم دغه، مخ ۲۸۲

[38] هم دغه، مخ ۲۸۱

[39] هم دغه، مخ ۳۳۸

[40] هم دغه، مخ ۳۳۲

[41] هم دغه، مخ ۹۴

[42] هم دغه، مخ ۹۴

[43] هم دغه، مخ ۹۴

[44] هم دغه، مخ ۲۸۷

[45] هم دغه، مخ ۸۶

[46] هم دغه، مخ ۳۰۷

[47] هم دغه، مخ ۲۳۶

[48] هم دغه، مخ ۲۶۸

[49] هم دغه، مخ ۱۱۳

[50] هم دغه، مخ ۲۳۶

[51] هم دغه، مخ ۲۳۶